آصف بهاند

۲۰۱۷/۰۷/۲۴

# غزل

ستا د خندا سرې لمبې بلېرې بیا
ژوند باندې د مرگ حکم چلېږي بیا

کرس دې د خندا چې تر غوږونو شي
کاڼي شانتې زړونه هم ویلېږي بیا

ته چې ما نه غواړې پروا نه شته ده
بل ته چې وگورې زړه وریتیږي بیا

هر چا ته چې درد رسي فریاد کوي
څکه دې جفا نه زړه نلیږي بیا

یو خوا دا ځواني او مینه گورم چې
بل خوا نا کردې، زړه مې نلیږي بیا

مراوی زړه مې تل غمو کې ډوب وي ډوب
ته چې ور په زړه شې، نو غوړیږي بیا

ستا په هیله ډیرې غوټۍ ونیسي
کله چې را نه شې، نو رژیږي بیا

ته خو وایې څه، خو ښکلې مینه دې
وینم یې، را گوري او موسیږي بیا

۱۳۶۴/۰۸/۱۸
کابل
افغانستان



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ